# د خپلواکۍ د غورځنګ ځینې نوم ورکي اتلان

## The unsung Heroes of the movement for independence

ډاکټر فضل الرحیم مروت*

**Abstract:**

During the early decades of the 20th century, the world started reshaping itself out of disorder. In the Indian subcontinent, this century opened with a new era of revolutionary liberation movements with secular, Marxists, socialist, Leninist and Pan-Islamist ideologies. The British imperialism and atrocities compelled many Indian radicals and freedom fighters to leave their motherland in search of independence. The only option to them was naturally tribal areas, Afghanistan, Central Asia and revolutionary Russia for training, help and succor for national uprising against the British Raj. These unsung heroes were either ignored or excluded from the pages of history in our country. This article is solely focused on the Pashtun revolutionaries to rediscover their lost heroism for researchers and academicians.

د خپلواکۍ توری ډېر جامع او زوړ دی. د دې متضاد غلامي او مرئیتوب (Slavery) دی. د مرئیتوب داستان هم ډېر زوړ دی خو دا یوه عقلي خبره ده چې د مرئیتوب مخې ته راتلو نه پس د خپلواکۍ، ازادۍ او استقلال تشریح شوې ده. خپله خاوره باندې، په خپله خوښه او خپل ځان د پاره د ژوند کولو نه چې کله وګړی د بل خوښه باندې بل د پاره په ژوند او کار کولو اړ شو نو په وړومبي ځل یې مرئیتوب وپېژندو او دې نه اګاهو د ژوند تېرولو ډول یې سپېځلې خپلواکي تعبیر کړه.

د زړو بادشاهانو تاریخونو کښې هم د مرئیتوب ذکر شته او جاګیرداري نظام کښې هم په یوه یا بله معنا دا توری زمونږ د سترګو مخې ته راځي او کۀ مونږ یې لټون او ډډون کښې د مختلفو دورونو نه

---

* Vice Chancellor, Bacha Khan University Charsadda

راتېر شو نو نن هم په محسوس یا غېر محسوس ډول د مرئیتوب نخښې د یوې خاص زاویې سره ثابتېږي.

لرغونو یا غربي فلسفیانو مرئیتوب خپل وخت سره د یوې ادارې په توګه په سیاسي نظام کښې ضروري ګڼلو. د وخت تېرېدو سره د انساني شعور او دیموکراسیې راتګ سره د مرئیتوب تصور هم په بدلېدو شو. ځینې هېوادونو د نسل، مذهب، فرقې، عقل یا د وسلې په زور واړۀ قامونه غلامان کړل. وخت سره دوي هم طریقې بدلولې. د زور او جبر مرئیتوب سیاسي مرئیتوب کښې او سیاسي مرئیتوب په اقتصادي مرئیتوب کښې بدلېدل شروع شول او د دې سره شعوري مرئیتوب هم په لاشعوري مرئیتوب کښې بدل شو. په معلوم تاریخ کښې د ارسطو وېنا چې "خدای ځینې خلق ځکه مریان زېږولي چې د یونان خدمت وکړي"، نه واخله تر دې وخته د مرئیتوب د پاره جوازونه جوړوونکو فکرونو دا لړۍ د روم، افریقې، عربو، استرالیا او ائرلېنډ نه تر هندوستان راورسوله او نن هم په مختلفو جوازونو په مختلفو هېوادونو کښې شتون لري.

د بل په خوښه او بل د پاره د ژوند کولو احساس چې د "مرئیتوب" نامه وموندله نو حریتي او د خپلواکه احساس ښنتن راپاڅېدل او وخت په وخت یې د خپلواکۍ د پاره غورځنګونه وکړل. بادارانو د دغه غورځنګونو چقولو د پاره هره وسیله او هره وسله په کار راوسته او په یو یو وخت یې نۀ یوازې په سلګاو کورونه ویجاړ کړل، په زرګونو خلک یې هم د خاورو لاندې کړل او د وېرې، کرکې او سپکاوي په زور یې د مرئیتوب ژوندي ساتلو هڅې وکړې.

نولسمې او شلمې پېړۍ لوی استعمارچیان (Imperialists) په بله واړول او د نړۍ ډېر قامونه د خپلواکۍ ترلاسه کولو کښې بریالي شول. د دې خپلواکۍ په معنا هغه وګړي پوهېدی شي چې خپل خان، خپل مشران، ماشومان، ښځې او خپل قام یې په زولنو تړلي لیدلي وي.

لۀ بده مرغه زمونږ هېواد کښې نۀ سرکاري او نۀ غېر سرکاري کچ باندې چا داسې ګامونه پورته کړل چې د هند د نیمې وچې (Indo-Pakistan) د ازادۍ د پاره خپل ټول ژوند یا په غرونو، یا په خارجي

هېوادونو او یا په بندونو کښې تېر کړی دی. د خپلواکۍ د غورځنګ داسې ډېر اتلان ورک دي چې د خپل قام او خپل هېواد د خپلواکۍ د پاره یې د خپل وس نه زیات کوښښ کولو. د هند او پاکستان دننه د خپلواکۍ د غورځنګ نوم ورکي اتلان ډېرو کمو خلقو په ګوته کړي دي. بد بختانه سوړ جنګ (Cold War) کښې د نظریاتي کشمکش په وجه هاغه اتلان چې چپ لاسي (Leftist) وو، د پاره د پاکستان سیاسي یا نظریاتي چوکاټ کښې ځای نهٔ ؤ او تاریخ کښې د جېو جېو خاورې لاندې پاتې شول.

دې مضمون کښې یو کوښښ شوی دی چې یوازې هغه پښتانهٔ اتلان اولس ته ښکاره کړی شي چې زمونږ نصابي او غېر نصابي کتابونو کښې یې ذکر نشته او کهٔ ځینې لیکوالو پرې قلم پورته کړی هم دی نو خپلو کتابونو کښې یې د هغوي ډېر ضمني ذکر کړی دی.

مونږ دلته د دغه نوم ورکو اتلانو ذکر کوو، دې هیلې سره چې د لټون د پاره نوې لاره پرانستې شي او راتلونکي کښې داسې نور اتلان هم د لیکلي تاریخ برخه وګرځي.

**عبدالقادر خان صحرایي:**

د خپلواکۍ د غورځنګ د دغه نوم ورکي مبارز تړون د پېښور سره ؤ. هغه 1901ء کښې د لوړ سماجي شخصیت محمد حسن کره زېږېدلی ؤ. د عبدالقادر په کورنۍ کښې نور سیاسي مبارزین هم وو. د هغهٔ د ترهٔ زامن عبدالعزیز او عبدالله جان د هغهٔ نه مخکښې ماسکو ته تلي وو. د عبدالقادر د ګرفتارۍ په وخت دا دواړه په ماسکو کښې عبدالرب برق (پشاوري) سره مېشته وو. دا د هجرت د تحریک زمانه وه.

د عبدالقادر خان صحرایي تعلیم مېټرک ؤ خو ځو اهم او ضروري سرکاري امتحانونه یې هم پاس کړي وو. د برطانوي سویلین پوځي افسرانو د استاد په توګه یې سرکاري وظیفه تر سره کړې وه او په دې لړ کښې یې د پښتو او هندوستان ژبو د لېکچرار په حېث د منځي هند د ملټري سټاف کالج د یادولو جوګه دی.

کال 1930ء کښې یې په "هجرت تحریک" کښې ګډون وکړو. د بُخارا په لاړ تاشقند ته لاړ او انډین ملټري سکول کښې داخل شو. اکتوبر 1920ء کښې یې کمیونسټ پارټي آف انډیا (CPI) کښې شمولیت وکړو. بیا د زدکړې د پاره ماسکو ته روان شو. هلته اوسېدو سره یې سمدستي ماسکو کښې "کمیونسټ یونیورسټي آف دي ټوئلرز آف دي ایسټ" (Communist University of the Toilers of the East) کښې زدکړې پېل کړې. 1922ء کښې د ماسکو تربیت یافته بېچ سره هندوستان ته واپس راغی، د چترال په سرحد یې ځان حکومت ته حواله کړو.

د اپرېل 1923ء "پېښور سازش کېس" کښې د هغهٔ خلاف هېڅ قانوني کاروایي و نهٔ شوه. دې سره په دهٔ دا شکونه راپورته شول چې ګنې د برطانیې جاسوس دی. د کال 1930ء نه یې "لندن سکول آف اورینټل سټډیز" کښې د پښتو ژبې د استاد په توګه ذمه واري پېل کړې"(1)

**عبدالقیوم خان:**

پهٔ کال 1898ء کښې د زېږېدلي عبدالقیوم تعلق پېښور سره ؤ. د پلار نوم یې خان بهادر عبدالحکیم خان ؤ چې په لاهور کښې د رېلوې پولیس کښې ډي.ایس.پي (DSP) ؤ.

عبدالقیوم خان چې کله په 1920ء کښې د "هجرت" فېصله وکړه نو دغه وخت دی د پنجاب یونیورسټۍ طالبعلم ؤ. د طالب علمۍ په زمانه کښې مارکسي خیالاتو سره اشنا شو. د اردو ادب په حقله یې ژوره او پراخه پوهه لرله. د محمد اکبر خان په مشرۍ کښې یې د مهاجرو قافلې سره د کابل نه تاشقند پورې سفر وکړو، انډین ملټري سکول کښې یې داخله واخسته او لوړو زدکړو د پاره یې ماسکو کښې "کمیونسټ یونیورسټي آف دي ټوئلرز آف دي ایسټ" ته مخه وکړه. د "کمیونسټ پارټي آف انډیا" غړی جوړ شو. څهٔ موده پس یې د سوویت یونین شهریت خپل کړو. د سوویت یونین د کمیونسټ پارټۍ هایي کمانډ کورسونه یې وکړل او بیا په "سُور پوځ" کښې افسر شو.

کال 1925ء کښې يې د ستالن يو تقرير په اردو وژباړو. په کالينن (Kalinin) نومې ښاريه کښې استوګن شو او يوې روسۍ سره يې وادۀ وکړو. څۀ موده يې ريلوې او ټرانسپورټ کښې هم ملازمت کړې دی.

**سلطان محمود**:

سلطان محمود تعلق د هري پور ضلعې سره ؤ. هغه 1899ء کښې د ترين قبيلې يو زميدار کره زېږېدلی ؤ. تره يې ريټائرډ رسالدار ؤ. تعليم يې تر مېټرک ؤ خو انګرېزي به يې روانۍ سره وئيله. محمد اکبر خان سره يې هجرت کړی ؤ. کابل نه تاشقند ته لاړو او ايوي ايشن (Aviation) کلاس کښې يې داخله واخسته. نورو مهاجرو طالب علمانو سره يو ځای ماسکو ته لاړو او "کميونسټ يونيورسټي آف دي ټوئلرز آف دي ايسټ" کښې يې زدکړې پېل کړې. د هغۀ په انسټرکټرز کښې منابندرا ناتهه رای (M. N. Roy) او د هغۀ ښځه ايولين (Evelyn) هم شامل وو. زباني او تحريري امتحانونه يې پاس کړل.

د کال 1922ء په سپرلي کښې يې باکو (Baku) پله مخه وکړه. بيا د پامير او چترال په لاړ هندوستان ته راستون شو او د کال 1922ء په اخره کښې يې بارډر افسر ته ځان حواله کړو. پېښور کښې پرې مقدمه وچلېده. اپرېل 1923ء کښې ورته د يو کال قيد سزا ورکړې شوه. د جېل نه راخلاصېدو نه پس يې سياست ته په مخه ښه ووئيل.

**مولوي عبدالرب برق پشاوري**:

د خپلواکۍ د غورځنګ د دغه نوم ورکي مبارز تعلق د پېښور سره ؤ. تعليم يې تر بي.اې (BA) ؤ. انګرېزي، فارسي او ترکي ژبې يې ښې په روانۍ سره وئيلې شوې. د کال 1903ء او 1904ء په زمانه کښې د بلوچستان په مکران سيمه کښې يې د "ګزېټئر اسسټنټ" (Gazetteer Assistant) په توګه کار کولو.

د وړومبي نړېوال جنګ په پېل کښې يې په بغداد کښې برطانوي سفارتخانه کښې وظيفه تر سره کړه. بغداد کښې د سفارتخانې په بندېدو انقره ته لاړ او د جنګ په زمانه کښې هلته مېشته شو.

1918ء کښې کابل ته راغی او بیا یې مولانا عبېدالله سندهي سره د هندوستان انقلابي ډله کښې ګډون وکړو. د کال 1918ء په اخره کښې مولانا برکت الله سره سوویت یونین ته لاړو. د دوي مقصد د برطانیې خلاف او د هندوستان په حق کښې همدردۍ مرستې حاصلول وو. دوي دلته هندوستان سره په لوی کچ رابطې جوړې کړې. تاشقند، بخارا، ثمرقند او باکو کښې یې په کال 1919-20ء کښې د "انډین رېولوشنري اېسوسي اېشن" (IRA) څانګې قائمې کړې. باکو کښې یې یوه اردو مجله "آزاد هندوستان" هم تابیا کړو. بیا وروستو کابل ته ورسېدو او د برطانیې خلاف مبارزه کښې یې عبېدالله سندهي سره مُلا وتړله. هلته نه یې هندي او افغاني مهاجرو ته سوویت یونین ته د منتقل کېدو ترغیب ورکړو او دغه لړ کښې یې ورسره مالي مرستې هم وکړې. د کال 1920ء دوران کښې بیا تاشقند ته ستون شو. په شروع کښې ورته د اعلیٰ تعلیم یافته مهاجرو مرسته حاصله وه، بیا د مهاجرو په مشرۍ او لیډرشپ یې ایم.این رای (M. N. Roy) سره اختلافات پېدا شول او کۀ دۀ هر څو د کمیونسټ کېدو دعویٰ لرله خو د دې باوجود په اکتوبر 1920ء کښې ایم.این رای د نوې جوړې شوې "کمیونسټ پارټي آف انډیا" نه وویستو.

مولوي عبدالرب د ایم.این رای په ضد د مرستیال مهاجرو یوې ډلې سره ماسکو ته ځان ورسولو. د دوي پوره کوښښ ؤ چې کمیونسټ لیډرشپ ته ترغیب ورکړي چې د هندوستاني انقلابي ډلو غتېه ترجیح د هندوستان قامي ازادي ده.

پۀ کال 1922ء کښې یې ماسکو کښې "امریکن ریلیف مشن" (American Relief Mission) سره کار وکړو. د سوویت یونین نه جرمني ته لاړو او بیا هم هلته په حق ورسېدو.

**صفدر عبدالله:**

د صفدر عبدالله پلار شېخ عبدالقادر په اصل کښې د سیالکوټ ؤ خو 1895ء کښې په پېښور کښې زېږېدلی ؤ. عبدالله په ګورنمنټ کالج لاهور کښې د بي.ای (BA) طالب علم ؤ چې څوارلس نورو مهاجرو سره یې د لاهور نه افغانستان ته د تلو فېصله وکړه. دا د فرورۍ میاشت او

کال 1915ء ؤ. کابل کښې مولانا عبېدالله سندهي او نورو بالشویک (Bolshevik) سره په رابطه کښې شو. تاشقند ته هم لاړو او انډین ملټري سکول کښې یې زدکړې پېل کړې. کمیونسټ یونیورسټي آف د ټوئلرز (ماسکو) نه یې ګرېجوېشن وکړو. اعلیٰ تعلیم یې په مارکسي تهیوري کښې د "انسټیټیوټ آف رډ پروفېسرز" نه ترلاسه کړو. کال 1933ء کښې هندوستان ته بېرته راغلو. د کمیونسټ پارټي آف انډیا د مرکزي کمېټۍ د جوړېدو یې مخالفت وکړو او د یو تنظیمي کونسل د جوړولو تجویز یې وړاندې کړو. انډر ګراونډ پاتې شو. پنجاب کښې یې د ایم.این راى (M. N. Roy) د پاره کار کولو او دغه د دوېم نړیوال جنګ زمانه وه. د جنګ د وړومبۍ برخې دوران کښې یې همېش د پاره هندوستان پرېښودو او سوویت یونین کښې استوګن شو.

**محمد شفیق**:

محمد شفیق د ضلع نوښار اکوړې کښې په کال 1900ء کښې زېږېدلې ؤ. په کال 1919ء کښې یې پېښور کښې د ایریګېشن (Irrigation) محکمه کښې د کلرک په حېث کار کولو. مۍ 1919ء کښې د رولټ ایکټ خلاف احتجاج کښې شامل شو او کابل ته یې هجرت وکړو. هلته یې مولانا عبېدالله سندهي او مولوي عبدالرب سره لیدۀ کاتۀ وشول او بالشویک (Bolshevik) خیالاتو نه کافي متاثره شو. هم دغلته د عبدالرب په تجویز د مزار شریف په لار سوویت یونین ته ورسېدو. د اردو او فارسۍ پروپېګنډه اخبار یې د "زمیندار" په نوم وویستو. جولایي 1920ء کښې یې د کمیونسټانو په دوېم کانګرس کښې د مندوب په حېثیت ګډون وکړو. اکتوبر 1920ء کښې یې تاشقند کښې د س.پي.آیي (Communist Party of India) د باني غړي په حېث خپل کردار ولوبوو او هم د دغه ګوند وړومبۍ سېکټر منتخب شو. په ماسکو کښې "کمیونسټ یونیورسټي آف دي ټوئلرز آف دي ایسټ" کښې تربیت ورکړې شو. نومبر 1921ء کښې په رازدارۍ د سمندر په لار او په غلط پاسپورټ هندوستان ته واپس راغې. د ګرفتارۍ د وېرې یې یو ځل بیا

کابل ته مخه وکړه. د کال 1923ء په اخره کښې یې ځان د ایران په سیستان ښار کښې برټش مشن ته حواله کړو. اپریل 1924ء کښې ورته د پېښور سېشن جج د دریو کالو قېد واورولو. په کال 1927ء کښې د بند نه د خوشې کېدو وروستو د هغهٔ په هلوځلو د هندوستان برطانوي سرکار بندېز ولګولو"(2).

د کال 1928ء په شروع کښې ماسکو ته لاړو او په ستمبر 1928ء کښې د شپږم کانګرس په موقع د هندوستان لهٔ اړخه د Delegate په توګه ومنلی شو. کانګرس ته د هغوي تقریر په Inprecorr کښې چاپ شو. کال 1932ء کښې هندوستان ته راستون شو او بیا په راتلونکي کښې د سیاست په مېدان کښې ښکاره او ګړندی و نهٔ لیدی شو.

**محمد اکبر شاه میاں:**

محمد اکبر شاه د نوښار ضلعې په بدرښو کلي کښې د جنورۍ په اتلسمه (18) نېټه کال 1899ء کښې زېږېدلی ؤ. پلار یې د پېښې په لحاظ کروندګر ؤ. خپلې پېلیزې زدکړې یې خپل کلي کښې ترسره کړې. محمد اکبر شاه چې کله په 1920ء کښې هجرت تحریک کښې شمولیت کولو نو دغه وخت پورې یې د مېټرک سند ترلاسه کړی ؤ او د پېښور په یو کالج کښې د انټرمېډیټ طالبعلم ؤ.

د هند خلقو د پاره د برطانوي سامراج خلاف عملي هلوځلو کولو د پاره افغانستان یوه غوره مورچه وه او امیر امان الله په خپله دغه خلقو سره خواخوږي لرله. خو کله چې د برطانوي هند او افغانستان تر منځه د یوې معاهدې لاسلیک کولو په وجه امیر امان الله هجرت کوونکي نور افغانستان کښې پرېښودی نهٔ شول نو میا اکبر شاه د کابل په لار سوویت ترکستان ته ورسېدو او بیا یې په تاشقند کښې "انډین ملټري سکول" کښې داخله واخسته. ستمبر 1920ء کښې یې په باکو کښې د مشرقي زلمو د پاره منعقد کړی شوي کانګرس کښې د هندي زلمو په نمائندګۍ ګډون وکړو. دسمبر 1920ء کښې د نوي جوړ شوي C.P.I (د هند د اشتراکیانو ګوند) د امیدوار غړي په توګه وټاکلی شو. د نور نظریاتي

تعلیم او زدکړې د پاره تاشقند نه ماسکو ته واستولی شو. څلور میاشتې پس د پرشین (Persia) بارډر نه هندوستان ته داخل شو او د کال 1922ء په ګرمۍ کښې ډیر په رازدارۍ او خاموشۍ کور ته راورسیدو، خو ډیر زر ګرفتار کړی شو. په کال 1925ء کښې د جیل نه په راخلاصیدو یې خپل تعلیم پله مخه وکړه او د پیښور نه یې ګریجویشن وکړ. "علي ګړه مسلم یونیورستیي" نه یې د وکالت تعلیم حاصل کړو. دې نه پس هغهٔ خدايي خدمتګار غورځنګ کښې ګډون وکړو او د باچاخان نزدې او باوري ملګرو کښې شمیر شو او د پاکستان جوړیدو پورې یې د پیرنګي خلاف عملي مبارزه پوره په جوش او ولوله وکړه.

د پاکستان جوړیدو نه پس په خدايي خدمتګار غورځنګ د بندیز نه وروستو ټولتپاکنو کښې د قیوم خان کشمیري ملاتړ کولو د هغهٔ سیاسي کردار کهٔ هر څو متنازعه کړو خو بیا هم ماضي کښې د هغهٔ د قربانیو او سیاسي جدوجهد په وجه ورته په درنه سترګه کتلی کیدل.

ژوند کښې یې د یو سیاسي کارکن او وکیل په توګه نوم لرلو. په اتم (8) اپریل 1990ء خپل کلي بدربښو کښې وفات شو او هم هلته ښخ دی.

میا صاحب پښتو کښې خپله سفرنامه "د ازادۍ تلاش" چاپ کړې ده چې ډاکټر وقار علي شاه 1989ء کښې اردو کښې د "آزادی کی تلاش" په نامه ژباړلې او چاپ کړې ده. ما هم په شخصي توګه میا صاحب سره دوه ځله مرکه کړې ده"(3).

**فدا علي زاهد:**

فدا علي زاهد د پیښور د خاورې فرزند ؤ. قزلباش قبیلې سره یې تعلق لرلو. د دهٔ پالنه او تربیت د دهٔ تره وکړو، څوک چې د چیف کمشنر په دفتر کښې کیمپ سوپرډنټ (Camp Superintendant) ؤ.

د دوي تعلیم تر لسم ؤ. د هجرت تحریک په لړ کښې په کال 1922ء کښې کابل ته لاړو. بیا یې د مهاجرو لویې ډلې سره تاشقند ته سفر وکړو. "انډین ملټري سکول" کښې یې د ایوي ایشن په کلاس کښې زدکړې پیل کړې.

پـه کـال 1921ء کښې ماسـکو تـه د نـورو زدکـړو د پـاره لاړو او هلتـه يـې "کميونسټ يونيورسټي آف دي ټوئلرز آف دي ايسټ" کښې داخله واخسته.

دسـمبر 1922ء کښـې واپـس پېښـور تـه راغلـو. برطـانوي حکـام تـه يـې ځان حواله کړو او پېښور سازش کېس کښې سلطاني ګواه شو.

**نثار محمد خان افغان يوسفزی:**

د ازادۍ د غورځنګ دا مبارز د صوابۍ د پټمنې خاورې زېده نومې کلي کښې پـه کـال 1897ء کښې زېږېدلی ؤ. هغـه د افغانستان پـه لاره روسيې تـه لاړو او زياتره وخت يې تاجکستان کښې تېر کـړو. هغـهٔ پـه وړومبـي ځـل منځنـي اسـيايي اشـتراکي پوهنتـون (Central Asian Communistic University) کښـې تاجـک ډلـه (Tajik Group) تـاده کـړې ؤ. کـال 1923-24 کښـې "رهنمـای حسـاب" او "الفيبـو" دوه نصـابي کتابونـه تـاجکي ژبـه کښـې وليکـل. 1926ء کښـې هغـه د تاجـک سـويت سوشلسټ ريپبلک (Tajik Soviet Socialist Republic) نائب تعليمي وزيـر مقـرر شـو او بيـا يـې 1927ء نـه 1932 پـورې پرلـه پسـې د تاجـک SSR د تعليـم قـامي وزيـر پـه حېث فـرائض ترسره کـړل. هغـه پـه کـال 1937ء کښـې پـه ماسکو کښې په حق ورسېدو او هم هلته خاورو ته وسپارلی شو"(4)

**خوشحال خان کاکاجي:**

خوشـحال خـان خټـک کاکـاجي پـه 1883ء کښـې پـه بهـادر خېـل (کـرك) کښـې د زاهـد ګـل خـان کـره زېږېـدلی ؤ چـې د خپـل وخـت نومـوړی صـوفي او خپلـواکي خوښـې مبـارز ؤ. پـه شـنه شـونډه خـدای هغـهٔ تـه قـامي او طبقـاتي شـعور ورکـړو او دغـه شـعور د پېرنګـي د غلامـۍ خـلاف هغـهٔ کښـې د جدوجهـد کولـو جـرأت پېـدا کـړو. لـږه مـوده کښـې هغـه د پېرنګـي د سـترګو ازغـی شـو او پـه هغـهٔ يـې د هغـهٔ د وطـن خـاوره تنګـه کـړه. کاکـاجي هجـرت وکړو او افغانستان کښې مېشته شو.

د 1917ء روس انقـلاب هغـه وهځولـو چـې د دغـه انقـلاب مطالعـه او مشـاهده وکـړي. هغـه افغانسـتان نـه تاشـقند او بيـا ماسـکو تـه لاړو او دا

انقلاب هغهٔ ته د خپل قام د خپلواکۍ او مختګ لاره ښکاره شوه. یو وخت د هند ملګرو سره هغهٔ د لېنن سره هم ملاقات وکړو.

کال 29-1928ء کښې هغهٔ په خدايي خدمتګار غورځنګ کښې برخه واخسته او په 1930ء کښې درې کاله قېد کړې شو. د کانګرس سره د ازادۍ هلې ځلې شریکېدو نه پس څهٔ موده کښې د هغهٔ کانګرس سره اختلافات پېدا شول او د نېتاجي سبهاش چندر بوس سره په فارورډ بلاک (Forward Block) کښې شامل شو.

کله چې 1947ء کښې پاکستان جوړ کړې شو نو کاکاجي هم په دې هیله د مسلم لیګ د غړ ملګرتیا وکړه چې دلته به د مزدورانو ژوند څهٔ خو ساه واخلي خو د هغهٔ زړهٔ هغه وخت مات شو چې د پاکستان جوړېدو سره هغه دوه کاله د پاره بندي کړې شو. جېل نه راوتلو نه پس هغهٔ د خپلو ملګرو سره د خواریکښو منظم کولو ته مُلا وتړله او په 8 اګست 1950ء دغه تور باندې د سېفټي ایکټ لاندې ونیولې شو. 1955ء کښې خپل کلي کښې نظربند کړې شو او د 1958ء مارشل لاء نه پس بیا شپږ میاشتو د پاره قېد کړې شو. سپینې ږیرې، د قېد و بند صعوبتونو او د ژوند ازمېښتونو ته د غر په شان ولاړ د خپلواکۍ د شمعې دا پتنګ په 19 ستمبر 1962ء د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. مرحوم ذوالفقار علي بهټو د فاتحه خوانۍ د پاره د دهٔ کلي بهادر خېل ته لاړ ؤ"(5).

**مولانا عزېر ګل:**

د زیارت کاکاخېل د شاهد ګل کاکا زوی عزېر ګل چې وروستو د "مولانا عزېرګل" په نامه یاد شو، درګۍ کښې زېږېدلې ؤ. په دېوبند کښې د طالبعلمۍ موده کښې د هغهٔ د مریدۍ تعلق مولانا محمود الحسن سره جوړ شو او د دسمبر په شلمه (20) نېټه 1916ء کښې د مکې نه د مولانا محمود الحسن سره یو ځای ګرفتار کړې شو او مالټا کښې پېرنګي استعمار د تورو تمبو شا ته بندي کړو. د رېښمي رومال تحریک سره تړلو رپورټونو او بیانونو کښې د هغهٔ بشپړ ذکر شوی دی. مولانا عزېرګل په نومبر 1889 کښې لهٔ دې نړۍ سترګې پټې کړې"(6).

**محمد یونس خان:**

محمد یونس په 26 جون 1916ء ایبټ اباد کښې د حاجي غلام صمداني کره سترګې غړولې دي. د دۀ نورو دوه نامتو ورونو کښې عبدالرحمان پشاوري شهید او یحيٰ جان خان هم د یادولو وړ دي. د "مسلم یونیورستي علیګړه" او "اسلامیه کالج پېښور" نه یې خپلې زدکړې تر سره کړې دي. په 1936ء کښې د طالبعلمۍ په زمانه کښې هغۀ د باچاخان سره "خدایي خدمتګار" غورځنګ کښې برخه اخستل پېل کړل او دا لړۍ یې په ډېره ذمه وارۍ او سرګرمۍ تر اګست 1947ء روانه وساتله.

1941ء کښې د "هند نه ووځۍ تحریک" (Quit India Movement) کښې په عملي برخه اخستلو سکندر مرزا (چې وروستو د پاکستان اولس مشر هم ؤ) قېد کړو او درې کالو د پاره یې بندي کړو. زندان کښې هغه د هر ډول ازمېښتونو او سختیو سره مخ کړې شو. دې ازمېښتونو د هغۀ اراده او حوصله ماته نۀ کړه خو صحت یې ډېر زیات خراب شو. 1944ء کښې د درې کاله قېد نه پس د هغه وخت سرکار دې امید سره خوشې کړو چې هسې هم مرګي حال دی. د خدای کړۀ وو، څۀ موده تېرېدلو نه پس هغه بیا روغ شو او بیا یې خپلې هلې ځلې د قام خپلواکۍ د پاره پېل کړې او په 1946ء کښې په دغه سپېځلي تور بیا قېد کړی شو او کشمیر کښې بندي کړی شو.

په 1947ء کښې د هند د وېش وچې وېش نه پس هغۀ په هندوستان کښې مېشته کېدل غوره کړل. دغه وخت نه هغۀ د هند خارجه وزارت کښې خدمات پېل کړل او بیا تر 1974ء یې د هند د تجارت مختک کښې خپل رول ولوبولو. تقاعد (Retirement) نه پس 1975ء کښې د هند د هغه وخت وزیراعظمې اندرا ګاندهي خپل ځانګړی نمائنده وټاکلو. 1989ء کښې د لویې جرګې "راجیه سبها" (Senate) غړی وټاکلی شو.

ټول ژوند د عملي او مبارزې او سیاست مېدان کښې تېرولو سره سره هغۀ خپل قلم هم غلی پرېښی نۀ ؤ او د Frontier Speaks نومې کتاب کښې یې د ازادۍ تحریک کښې د پښتنو د قربانیو تذکره خوندي کړې وه چې په 1942 کښې چاپ شوی ؤ او پېرنګي سرکار پرې بندېز

اېښــی ؤ. دې ســره یــې اردو ژبــه کښــې "قیــدی کــی خــط" او پــه نــومبر 1979ء کښــې یادا ښــتونه د Persons, Passions and Politics پــه نامــه چــاپ شوي وو.

د نـۀ ماتېـدونکي او نـۀ سـتړي کېـدونکي دغـه قـامي اتـل ژونـد د جـون پــه اتلســمه (18) نېټــه کــال 2001ء کښــې د ډیلــي یــو روغتــون کښــې ســاه ورکړه او هم هلته ښخ کړی شو"(7).

## عبدالرحمان پېښوری( پشاوري):

عبــد الرحمان پېښــوری پــه کــال 1876ء کښــې د پېښــور د نومــوړي تــاجر حــاجي غــلام صــمداني کــره ســترګې غړولــې وې. هغــه لا"علــي ګــړه پوهنتــون" کښــې طــالبعلم ؤ چــې د کــال 1912 ء د دســمبر میاشــت کښــې د ډاکټــر مختــار احمــد انصــاري لــۀ خــوا د بلقــان جنــګ کښــې د خلافــتِ عثمانیــه مرســتې د پــاره یــو اولســي ټــولګي ســره ترکــي تــه لاړو او هلتــه دوي درې طبــي کېمپونــه (Medical Camps) جــوړ کــړل. د هغــۀ کــورنۍ هغــۀ لا اجــازت نــۀ ورکولــو نــو د ســفر لګښــت د پــاره هغــۀ خپــل اغوســتن او کتابونــه خــرڅ کــړل. د بلقــان جنــګ نــه پــس چــې کلــه د اولســي ټــولګي نــور خلــق بیــا هنــد تــه ســتنېدل، عبــد الرحمان پــه ترکــي کښــې ایســارېدل غــوره کــړل او ترکــي پــوځ کښــې تربیــت ترلاســه کولــو د پاره استنبول ته لاړو چې هلته نه بېروت ته واستولی شو.

وړومبــي نړیــوال جنــګ کښــې هغــۀ د لیفټېنټ پــه حېث خپلــې ذمــه واری پــه بېــروت او داردنلــس (Dardanelles) کښــې پــه ډېــره مېړانــه ترســره کــړې. دې جنــګ کښــې المــانیې او ترکــي مــاتې وخــوړه او متحــده ځواکونــو د ترکــي پلازمینــه اســتنبول ښــار ونیولــو. مصــطفيٰ کمــال پاشــا دغــه وخــت د متحــده ځواکونــو او ترکــي خلافــت مخــه نیولــو د پــاره پــه انقــره کښــې د صــوبایي حکومــت جوړولــو اعــلان وکــړو. د ترکــي خپلــواکۍ ســاتلو د پــاره عبــد الرحمان پېښــوري هــم هغــۀ لــه لاس ورکــړو. مصــطفيٰ کمــال چــې کلــه "اتــاترک" شــو نــو هغــۀ د جنــګ زمانــه کښــې د عبــد الرحمان پېښــوري مېړانــه او ځیرکتیــا تــه کتلــو ســره ســره پــه ترکــي اولــس کښــې د هغــۀ د پــاره د مینــې پــه لیــدو مــارچ 1921ء کښــې هغــه افغانســتان تــه د ترکــي د ســفیر پــه حېــث

راولېږلو. کله چې د هغهٔ نه پس فخري پاشا سفير شو نو عبدالرحمان بيا پېښور ته راغلو او درې مياشتو پورې خپل کور کښې ؤ. دې نه پس چې استنبول ته لاړو نو لهٔ بده مرغه هلته د مۍ په څليريشتمه (24) نېټه 1925ء د دهٔ سره په شکل او ځاندره کښې د ډېر نزدېوالي لرونکي رؤف بې (Rauf Bay)، چې بيا د ترکي وزيراعظم شو، په ټس کښې له ووژلی شو. د هغهٔ ځلی اوس هم د استنبول په مکا اديره کښې شته او د ترکي خلق ورته د خپلې خپلواکۍ د ستر مبارز او قامي محسن په حېث درناوی ورکوي"(8)

ياد دې وي چې هم دغه اديره کښې سيد جمال الدين افغاني هم دفن کړی شوی ؤ چې بيا يې جسدِ خاکي هلته نه افغانستان ته راوړی شو.

**عبدالاکبر خان اکبر:**

عبدالاکبر خان اکبر په کال 1899ء کښې په اتمانزو کلي کښې د محمدزئ قبيلې د لوی خان عبدالقادر کره زېږېدلی ؤ. پېليزې زدکړې يې خپل کلي اتمانزو کښې ترلاسه کړې او بيا نورې زدکړې د پاره "اسلاميه سکول" پېښور کښې داخل کړی شو. په 1916ء کښې يې "اسلاميه کالجېټ پېښور" نه لسم پاس کړو او لوړو زدکړو د پاره يې "اسلاميه کالج پېښور" کښې داخله واخسته.

اسلاميه کالج کښې د زدکړو په دوران کښې د وړومبي نړېوال جنګ تر اثر لاندې د وړو قامونو د ازادۍ پاځون په څپو شوی ؤ. د هندوستان د نورو برخو سره د 1919ء شاوخوا اسلاميه کالج کښې هم ځينې طالبعلمانو د پېرنګي په ضد غورځنګ راپورته کړو او عبدالاکبر خان پکښې هم برخه واخسته. 1920ء کښې افغانستان ته د هجرت تحريک اغېزمن کولو د پاره هغهٔ د هجرت کوونکو کومک وکړو او په خپله يې هم هجرت وکړو. کابل نه هغه روس ته لاړو او بيا کابل ته راتلو باندې يې حبيبيه ليسه (Habibia Lycee/ School) کښې تدريس پېل کړو. دغه ځای د پېرنګي استعمار په ضد د پروپېګنډې مرکز ؤ چې پکښې افغان روشن فکره او هندي مهاجرين استادان شامل وو. وروستو د پېرنګي

استعمار منځ ته ورلو د پاره یې په چارسده او نوښار کښې د باچاخان (عبدالغفار خان) سره د ازاد هایي سکولونو تیره کښېنوده.

د عملي سیاست او ټولنیز خدمت سره د هغهٔ قلم هم ودرېدلی نهٔ ؤ او علمي او ادبي مبارزه یې هم کوله. د خدایي خدمتګار غورځنګ لهٔ خوا هغهٔ "تهذیب جدید او تعلیم جدید" (1927)، "درې یتیمان" (1928)، "خدایي خدمتګار" (1928)، "جونګړه" (1945) او "کاروان روان دی" (1957) ډرامې لیکلو سره د روس، ترکستان او افغانستان د سفر حالات هم یوه سفرنامه کښې خوندي کړي دي. دې سره یې "د هندوستان قبائیلي سرحد" او "مثنوي مولانا روم" هم پښتو ژبه کښې ژباړلي دي. نورو نثري کتابونو کښې یې "زمونږ نبي محمد ﷺ عربي" (1949)، "روښانیان د مغلو تاریکیان" (1969)، "د برصغیر پاک و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه"، "ادبي پنګه" (1967)، "خوارهٔ تراخهٔ" (1958) او "مثنوي اسلام او مسلمانان" شامل دي.

عبدالاکبر خان اکبر د اکتوبر په یولسمه نېټه، د نهې په ورځ کال 1977ء کښې د اتهٔ اویا کالو په عمر کښې د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې"(9)

**الله بخش برقي:**

الله بخش برقي د شلمې پېړۍ د پېل کلونو کښې د پېښور یوه تجارت پېشه کورنۍ کښې زېږېدلی ؤ. هغهٔ د خپل پلار سره روزګار کښې مرسته کوله خو د هغهٔ پتمن زړهٔ د هېواد د حالاتو نه بې غمه نهٔ و، ځکه 1920ء کښې د خلافت رضا کار کمېټۍ کښې شامل شو او هم د دې کمېټۍ لهٔ خوا ورځپاڼه "رضاکار" کښې یې کار پېل کړو.

هغه د تود سیاسي خوي څښتن ؤ او چې کله د هندوستان مرکزي اسمبلۍ کښې بهګت سنګهـ او د هغهٔ ملګرو بم وډزولو او ټول ملک کښې تودوخه جوړه شوه نو برقي هم د "رضاکار" نه "نوجوان بهارت سبها" کښې شامل شو خو دې سره یې آل انډیا نېشنل کانګرس له هم منډې وهلې. د هغهٔ نوم سره "برقي" هله زیات شو چې کله به هغهٔ د نوجوان

بهـارت سـبها او کـانګرس هلـې ځلـې ډېرې پـه تونـدۍ او ګړنـد يتوب کـوئ. نوجـوان بهـارت سـبها ګونـد چې بنيـادي مـرام يـې هندوسـتان (پـاک و هنـد) کښــې سوشــلزم (Socialism) د پــاره کــار کــول وو، خپــل اووۀ ورځنــې "ســرفروش" پيــل کــړو نــو برقــي دې کښــې د يــو پوهــه سياســي او انقلابــي ليکوال په توګه وپېژندلی شو.

د کـانګرس لـۀ خـوا چـې د سـول نافرمـانۍ (Civil Disobedience) غـږ وشـو نـو لکـه د نـور هندوسـتان پېښـور کښې هـم سياسـي خلقـو ځانونـه چمتـو کـړل. دې لـړ کښـې پېرنګـي سـرکار هـم د سياسـي مشـرانو د نيولـو ګـوابښ پيـل کـړو او 22 اپريـل پـورې يـې زيـاتره مشـران د سـيخونو شـا تـه ګېـر کـړل. پـه 23 اپريـل 1930ء يـې برقـي او سـيټهيi هـم ونيـول . اولـس د دې ګرفتـاريو پـه ضـد راپاڅېـدل او نتيجـه يـې د جـابر حکومـت لـۀ خـوا 1930ء کښـې د قيصـه خـوانۍ د خـونړۍ پېښـې شـکل کښـې د تـاريخ د يـوې تـورې پـاڼې پـه حېـث خونـدي شـوه. بيـا وروسـتو د دفعـه 124 سـره سـم برقـي تـه ځلـور او سـيټهي تـه درې کالـه سـخت قېـد واورولـی شـو. دا قېدونـه هغـۀ د ميـانوالۍ او امبـالې جېلونـو کښـې تېـرول چـې 1931ء کښـې د ګانـدهي ارون معاهـدې (Gandhi Irvin Pact) نتيجه کښې خوشې کړی شو.

برقـي خپلـې هلـې ځلـې د نوجـوان بهـارت سـبها د پـاره تـر هغـې جـاري سـاتلې چې مسلم ليـګ پېښـور کښـې جـوړ کـړی شـو. دۀ 1937ء کښـې مسـلم ليـګ کښـې ګـډون وکـړو هماغـه رنـګ پـه جـوش او ولولـه يـې پاکسـتان د پـاره کار کولو. په فروري 1962ء کښې پېښور کښې په حق ورسېدو"(10)

### حيات ګل حاجي:

حيـات ګـل يـو انګرېـزي ښـونځي کښــې زدکـړه کولـه خـو چـې 1920ء کښـې د عـدم تعـاون تحريـک پيـل شـو نـو دی هـم د انګرېـزي ښـونځي نـه ووتـو او د اتمـانزو (چارسـده) پـه ازاد سـکول کښـې داخـل شـو. دې ښـونځي کښـې د بنـو (ميراخيـل) د هېډماسـتر مقصـود جـان غونـدې اسـتاد هغـۀ تـه د تعلـيم سـره د قـام مينـه او درد هـم زده کـړل. 1920ء کښـې چـې د پېرنګـي پـه ضـد د اولسـي نافرمـانۍ (Civil disobedience) پيـل وشـو نـو حيـات ګـل

هـم دې کښې برخـه واخسـتـه. د سـرکار لـۀ خـوا ونيـولـى شـو او يـو کـال د پـاره جېـل تـه ولېږلـى شـو خـو 1931ء کښـې د عـام معـافـۍ د اعـلان تـر مخـه ازاد کـړى شـو. 1932ء کښـې بيـا د اولسـي نافرمـانۍ تحريـک پـه وجـه گرفتـار شـو او د هـري پـور مرکـز جېـل تـه ولېږلـى شـو. دۀ يـو کـال پـورې خـو هـر ظلـم او وحشـت وزغملـو خـو اخـر د دغـه وحشـيانه رويـې خـلاف راپاڅېـدو. د نـورو سياسـي قېـديانو پـه مشـوره يـې څـۀ غوښـتنې د زنـدان چـارواکو تـه وړانـدې کـړې. هغـوي چـې پـه دغـه غوښـتنو غـوږ و نـۀ گرولـو نـو دۀ "ابلـې پښـې سـر تـور سـر" احتجـاج پېـل کـړو. د زنـدان چـارواکو دى يـوه تـوره کوټـه کښـې بنـد کـړو خـو لـږ وخـت کښـې د زر پـورې قېـديان ابلـې پښـې سـرتور سـر دغـه احتجـاج تـه راوړانـدې شـول. د حيـات گـل او نـورو قېـديانو پـه غوښـتنو چـې د زنـدان چـارواکو څـان غلـى کـړو نـو حيـات گـل د لـوږې ناسـتون (Hunger strike) شـروع کـړو. يـوه اونـۍ چـې تېـره شـوه نـو د جېـل نـور قېـديان هـم د هغـۀ سـره ملگـري شـول. د زنـدان چـارواکو نـه وار پـار خطـا شـو. هغـوي راغلـل او قېـديانو تـه يـې ووې چـې کـۀ تاسـو ناسـتون ختـم کـړئ نـو ستاسـو پـه غوښـتنو بـه غـور وکـړو. حيـات گـل هـم هغـوي تـه ووې چـې تاسـو ناسـتون مـات کـړئ او زۀ بـه د غوښـتنو پـوره کېـدو پـورې خلـې لـه څـۀ نـۀ راوړم. دا ناسـتون يـوې مياشـت تـه وغځېـدو او حيـات گـل ډېـر کمـزورى شـو. چـارواکو هغـۀ سـره لـوظ وکـړو چـې ستاسـو غوښـتنې بـه د صـوبايي سـرکار نـه پـوره کـوو او دغسـې پـه دغـه لـوظ حيـات گـل هـم خپـل ناسـتون مـات کـړو (پيـنځلس ورځـو پـورې دې ناسـتون کښـې د نوښـار عبـد الرحمان باچـا او د اتمـانزو واحـد گـل هم ملگري وو"(11).

روغتـون کښـې عـلاج نـه وروسـتو بيـا د جېـل سياسـي احاطـه کښـې بنـد کړى شو. سره د يو زر قېديانو به ابلې پښې او سرتور اوسېدو.

د حکومـت لـۀ خـوا چـې درې مياشـتو پـورې څـۀ گـام پورتـه نـۀ شـو نـو حيـات گـل يـو ځـل بيـا د لـوږې ناسـتون اعـلان کـړو. دا ناسـتون چـې دوه مياشـتو تـه ورسـېدو نـو يـو پلـه کـۀ د حيـات گـل بـدن پـه وچېـدو شـو نـو بـل پلـه دا خبـر پـه هـر ايـوان او ديـوان خـور شـو. د برطـانيې پارليمـان او د هندوسـتان مرکـزي اسـمبلۍ کښـې دغـه ناسـتون تـر هـر څـۀ لويـه مسـئله وگرځېدلـه.

سرکار په هغهٔ خپلې تنهې وشلولې، د کور خلق یې پرې جرګه کړل خو حیات ګل هم دا خبره کوله چې اوس یا مرګ او یا مرام.ــــ هغهٔ اوبهٔ څښلکل هم پرېښودل او یوه ورځ چې باران کېدو، د هغهٔ سیکه واډر (warder) ولیدل چې حیات ګل د باران څاڅکو ته ګوري. هغهٔ د حیات ګل سر په خپل ځنګون کېښودو او څو څاڅکي یې د هغهٔ خلهٔ کښې توې کړل او بیا په منډه د جېل سوپرډنټ (Superintendent) پسې لاړو او ورته یې ووې چې څهٔ وکړئ ګنې د حیات ګل ژوند په ختمېدو دی. هغوي اوتر د دهٔ خوا له راغلل خو دهٔ ورته هم دا ووې چې د غوښتنو منلو پورې کهٔ مرم کهٔ رغېږم خو څهٔ خورم څښکم نهٔ. اخر د هغهٔ د جرأت او همت وړاندې برطانوي سرکار سر ټیټ کړو او د هغهٔ غوښتنې یې ومنلې.

د زندان نړیوال تاریخ کښې حیات ګل د لوږې تر ټولو اوږد ناستون کړی دی. هغهٔ نه اګاهو د اطالیه اوسېدونکي ماکسولیني درې پنځوس (53) ورځې د لوږې ناستون کړی ؤ. 1928ء کښې د "لاهور سازش کېس" مقدمه کښې جیتندرا ناته داس د سیاسي قېدیانو د پاره د A Class مطالبه کړې وه او درې شپېتهٔ (63) ورځې ناستون یې کړی ؤ خو په درې شپېتمه ورځ هغه مړ شوی ؤ"(12).

حیات ګل یو ځل دېرش (30) ورځې او یو ځل په یو اېړ پینځهٔ شپېتهٔ (65) ورځو سره تر اوسه لهٔ ټولو د لوږې اوږد ناستون کړی دی خو دغه اتل باندې تاریخ غلی دی او د ژوند نور حالات یې لاورک دي.

**محمد اسلم سنجري:**

د احمد شاه ابدالي سره د افغانستان نه د کاکړ قبیلې یو مشر قاضي عبدالغفار خان سنجري د قاضي القضاة په حېث پېښور ته راغلی ؤ. د دهٔ زوی قاضي ګل احمد خان سنجري (آغاجي) یو حکیم هم ؤ او تجارت یې هم کولو. په کال 1895ء کښې هم پېښور کښې د دهٔ زوی وزېږېدو چې نامه یې پرې محمد اسلم (سنجري) کېښوده. اسلم سنجري به سبق وئیلو سره سره حکمت هم زده کولو او د مولانا ابوالکلام ازاد "الهلال" او "البلاغ" سره سره به یې د محمود طرزي "سراج الاخبار" هم لوستو چې افغانستان نه به د دوي کور ته راتلل. د هغهٔ وینه کښې د

خپلـواکۍ مینـه او ولولـه پـه تنکـي عمـر کښـې پـه غورځنـګ شـوې وه. د حـاجي صـاحب ترنګـزئ "حـزب الله" د پـاره بـه يـې چنـدې هـم کـولې او عملـي برخـه بـه يـې هـم اخسـته. دغسـې يـاد شـوي اخبارونـه بـه يـې هـم د پېرنګـي پـه ضـد د اولـس راپـارولو د پـاره پټـه پـه پټـه پېښـور کښـې وېشـل. هندوسـتان کښـې د خپلـواکۍ د پـاره کـار کـوونکي يـو متشـدد سياسـي ګونـد "غـدر" سره يې هم اړيکې درلودې.

ترکـي چـې وړومبـي نړيـوال جنـګ کښـې برخـه واخسـته نـو د اسـتنبول نـه د پېرنګـي خـلاف د جهـاد فتـويٰ پـه ټولـه اسـلامي نـړۍ کښـې خـوره شـوه. حـاجي صـاحب ترنګـزئ هـم د دغـه فتـوې نـه پـس خپـل کلـي کښـې د "حـزب الله" يـوه غونـډه راوبللـه. انګرېـز چـې کلـه دغلتـه راغلـو نـو حـاجي صـاحب ترنګـزئ د خپلـو ملګـرو سـره دغـه ځـای نـه وتلـو کښـې کاميـاب شـو او بـونېر تـه لاړو. اسـلم سـنجري هـم هـر څـۀ پـه ځـای پرېښـودل او خپلـو ملګـرو سـره بـونېر تـه روان شوـ هلتـه نـه پـه مـردان ښـار کښـې د پېرنګـي سـرکار پـه چـاونړو د حملـې کولـو تيـاري پېـل کـړې شـوه. اسـلم سـنجري هـم د لښـکر جوړولـو او دې د پـاره د وسـلې او راشـن تابيـا کولـو کښـې ډېـر کـار وکـړو خـو انګرېـز د حملـې نـه مخکښـې خبـر شـو او پـه بـونېر يـې يرغـل وکـړو. د حـاجي صـاحب ترنګـزئ ډېـر ملګـري شـهيدان شـو چـې پينځـۀ دېـرش (35) کسـان پکښـې صـرف د اسـلم سـنجري د ذاتـي ملګـرو نـه شـهيدان شـوي وو. اسـلم پـه خپلـه هـم ژوبـل شـوی ؤ. دغـه جنـګ کښـې يـو نـيم سـل (150) نـه زيـات پېرنګـی پـوځ هـم وژلـی شـوی ؤ چـې لويـه وسـله او تـوپې تـرې د حـاجي صـاحب ترنګـزئ لښکر ته پاتې شوې وې.

جنـګ بـې نتيجـې خـتم شـو خـو د پېرنګـي او خپلـواکۍ خوښـو داوونـه خـتم شـوي نـۀ وو. دې دوران کښـې د سـردار نصـرالله خـان مشـرۍ کښـې پـه قبـائيلي سـيمو کښـې د پېرنګـي سـره جنـګ د پـاره لښـکر تيارېـدلو چـې دوه دېـرش زره (32,000) پـورې کسـان پکښـې ملګـري شـوي وو. دا خبـرې د پېرنګـي غوږونـو تـه هـم رسـېدې او بيـا يـوه ورځ د مولانـا عبېـدالله سـندهي يـو خـط د حـاجي صـاحب ترنګـزئ پـه نامـه راغلـو چـې هغـې کښـې يـې پېښـور نـه د څـۀ سـامان او وسـلې پـه رازدارۍ کښـې د اخسـتلو وئيلـي وو. دغـه لـوي

کار د پاره د حاجي صاحب زړۀ په اسلم سنجري وخښکلې او د "مهاجر کاشغري" په نامه يې بدله کړې حليه کښې د اکبر مجاهد سره پېښور ته راولېږلو. د هغۀ پرهرونه لاورغلي نۀ وو او په سر يې انګرېز لوی انعام هم ايښی ؤ خو دغه لوي کار د پاره روان شو. دغه ورځو کښې د "حزب الله" يو غړی ډاکټر عبدالکريم هم د "صدرالدين" په نوم سره هندوستان نه مجاهدينو د پاره ډېرې نغدې او ولايتي بمونه راوړي وو او د اسلم سنجري په کور کښې ايسار ؤ. سرکار ته خبر وشو او د دۀ په کور ور وختو. دوي ګېر شو خو صدرالدين (ډاکټر عبدالکريم) سره د نغدو او بمونو د دغه کور تاخانه کښې په پټېدلو پوليس ونۀ موندل. عدالت کښې دوي ته د پهانسۍ سزا واورولې شوه او پېرنګی من من غټېدو چې اوس يې د غورځنګ ملا ماته کړه. څو ورځې پس اکبر مجاهد پهانسي کړی شو او د اسلم سنجري سزا عمر قېد کړې شوه. وايي چې د اسلم سنجري د پلار د شاګردۍ په وجه چيف کمشنر روس کېپل (Roos Keppel) دغه هر څۀ کړي وو. 1918ء کښې د يورپ جنګ کښې د فتح موندلو خوشحالۍ کښې پېرنګ د قېديانو د خوشي کولو فېصله وکړه او اسلم سنجري هم د سختې بيمارۍ په وجه دغه فهرست کښې ازاد شو. د سي.آيي.ډي (C.I.D) سختې نګرانۍ باوجود هم هغه ډېره اسماعيل خان کښې نظربند ؤ. دغلته نه ملتان کښې نظربند کړی شو او څۀ ورځې پس پېښور ته ولېږلی شو.

1919ء کښې پېرنګي د "رولټ ايکټ" (Rowlatt Act) په ذريعه د خپلواکۍ غورځنګونو چقولو ته متې راونغښتې. اسلم سنجري هم بيا راپاڅېدو او پېرنګي يې سره د څلوېښت ملګرو د نيولو وارنټونه روان کړل. د مۍ مياشت کښې سره د ملګرو قندهار ته د حاجي صاحب ترنګزئ خوا له لاړل.

د برطانوي سرکار سره د امير حبيب الله خان نزدې اړيکې د هغۀ په وژنه سر ته ورسېدې او امان الله خان د افغانستان نوی امير شو. هغۀ افغانستان د پېرنګي اغېز نه ازادول غوښتل او هند کښې د خپلواکۍ روانو غورځنګونو هغۀ له ډاډ ورکړو چې پېرنګي ته وګوابښېږي. د پېرنګ

خلاف دې درېم "افغان پېرنګ جنګ" کښې ازادي خوښو هره مرسته وکړه او په 8 اګست 1919ء د دواړو منځ کښې د روغې نتيجه د افغانستان په داخله او خارجه پاليسۍ د خپلواکۍ شکل کښې راغله. امان الله خان د افغانستان باچا تسليم کړی شو. اسلم سنجري دې نه پس جلال اباد کښې مېشته ؤ چې شاهي دربار ته وغوښتلی شو. د "ډهکه" په مقام جنګ کښې د ماتې د لاملونو په حقله د هغۀ ځيرک جوابونو امير امان الله خان متاثره کړو او ډېر زر اسلم سنجري شاهي دربار کښې د "حکيم پشاوري" په نامه مشهور شو او امير خپل سياسي مشير وټاکلو.

1920ء کښې چې کله هجرت تحريک پېل شو نو د مهاجرينو بندوبست د پاره کمېټې جوړه کړې شوه چې اسلم سنجري (پېښوری حکيم) يې سترسپکټر وټاکلی شو. دغه ورځو کښې به د دۀ ادارت کښې اووۀ ورځنی اخبار "استقلالِ افغان" هم خپرېدو.

1928ء کښې د امير امان الله خان د يورپ دورې پېرنګي د پاره د افغانستان نه د داخله او خارجه خپلواکۍ واپس اخستلو موقع پېدا کړه او هغوي بچه سقا (جنوري- اکتوبر 1929) سره د کابل نيولو پورې هر ډول کومک وکړو. د پېرنګي کومک او د مليانو فتوو امير امان الله خان په کابل پرېښودلو او قندهار ته تګ مجبوره کړو. اسلم سنجري د بچه سقا مخه نيولو د پاره هم کابل کښې پاتې شو خو غزني کښې د امير د لښکر ماتې خوړلو سره هغۀ افغانستان پرېښودو او بچه سقا هغه ټول خلق اوور ته ونيول چې پېرنګي له يې ماتې ورکړې وه او افغانستان کښې مېشته شوي وو چې دوي کښې اسلم سنجري هم شامل ؤ. د هغۀ کورنۍ ته هر تکليف رسولو نه پس ځلور مياشتې پس اسلم سنجري هم ګرفتار شو او خپلو ملګرو سره شاهي قلعه ارک کښې بندي کړی شو. د يو فرضي عدالت نه دوي ته د مرګ سزا واورولې شوه. نور ملګري يې وخت په وخت ووژلی شول او دی يوازې جېل کښې قېد پاتې شو. يوه ورځ دی زنځيرونو کښې د بچه سقا وړاندې پېش کړی شو. بچه سقا خپله ماڼۍ کښې بيمار پروت ؤ. دۀ ته يې ووې چې تۀ يو لوی مجرم کېدو سره يو حکيم هم يې. زما علاج وکړه خو کۀ څۀ کوتاهي يا ګستاخي دې وکړه

نو ستا او ستا د ټولې کورنۍ مونږ به وباسم. میاشت یوه نیمه پس بچه سقا روغ شو او زړۀ یې هم د هغۀ په حق کښې پوست شو. کله کله به یې زندان نه ماڼۍ ته راغوښتلو او یوه ورځ یې د خپل نزدې وزیر عبداللطیف کوهاټي په وینا د دۀ د مرګ سزا ختمه کړه خو په کور یې بندي کړو.

دغه ورځو کښې نادر خان د فرانس پېښور ته راغلو او یوه دستوره کښې یې په قران لاس کېښودو چې د امیر امان الله خان تخت به بیا د بچه سقا نه اخلي او امیر به بیا د خپل تخت مالک کوي. نادر خان پېښور نه افغانستان ته روان شو او په دې خبر خورېدو د امیر امان الله خان سره مینه لرونکو د نادر خان هره مرسته وکړه او اتۀ میاشتې جنګ نه پس یې بچه سقا ووژلو او د کابل تخت یې په خپله قبضه کړو. دې بې لوظۍ ډېر خلق د نادر خان خلاف کړل. وایې چې پېرنګې نۀ غوښتل چې امان الله خان دې بیا د افغانستان امیر شي. د اسلم سنجري غوندې خلق دغه وخت هم په کابل کښې مېشته وو. نادر خان د هغۀ نه د امیر امان الله خان د روس او د هند د حریت پسندو سره د تړون په اړه معلومات ترلاسه کول غوښتل خو هغۀ نه غږ نۀ ختلو. نادر خان به دې نه هم خبرېدو چې د اسلم سنجري په کور د امیر امان الله خان د مئینو غونډې کېږي او هم په دې جواز یوه ورځ ونیوی شو او د شاهي ماڼۍ په برج جرثقیل کښې بندي کړې شو. بل اړخ ته نادر خان په مختلفو جوازونو جېلونو کښې د امیر امان الله خان خواخُوږي په ډېره بې دردۍ سره وژل پېل کړل. د خدای کړۀ وو چې عبدالعظیم خان نومې یو هندوستاني انقلابي افغانستان کښې برطانوي سفیر فریزر ټېلر (William Fraser-Tytler) د ټولو خپلواکي خوښو د مرګ سبب ګڼلو او د دۀ مرګ پسې چې سفارتخانې ته لاړو نو درې کسان مخې له ورغلل. دۀ ترې تپوس وکړو چې فریزر ټېلر څوک دی نو هغو کښې یو کس چې نوم یې ټرېنچر (انجینئر) ښودلی کېږي، ورته ځان یاد کړو. دۀ هماغه وخت "حکیم سنجري زنده باد" چغه کړه او هغه یې په تماچه وویشتو ii۔ عبدالعظیم خان ګرفتار شو او د اسلم سنجري ټوله کورنۍ هم بندي کړې شوه. اسلم سنجري ته د مرګ سزا واورولې

شوه خو څلور کالو پورې برج جرثقیل کښې وساتلی شو. بیا د حضرت ملا شور په سپارښ یې د مرګ سزا عمر قېد کښې بدله کړې شوه او څوارلس کاله یې د ارک قلا کښې تېر کړل. 1932ء نه 1946ء پورې دغه قېد کښې هغۀ پښتو، فارسۍ او اردو ژبه کښې د اوچتې پایې شاعري هم وکړه. د وړې وچې د وېش فېصلې نه پس حکومت اعلان وکړو چې سیاسي مفروران او سیاسي مقدمو کښې مطلوب خلقود پاره د عام معافۍ اعلان دی خو د دې باوجود هم اسلم سنجري بندي وساتلی شو. ستمبر 1946ء کښې د منځنۍ دورې (Interim government) د صدر په حېث جواهر لال نهرو د دغه سیاسي مفرورانو نومونه یاد کړل چې پکښې د حکیم اسلم سنجري نامه هم وه. دې نه پس افغان حکومت اسلم سنجري هم ازاد کړو خو هغۀ ته د افغانستان نه د وتلو وویلی شول. د کویټې په لاره چې هغه کابل نه پېښور ته راغلو نو د هغۀ هرکلي ته څوک هم ولاړ نۀ وو. د دې ځای خلقو هغه هېر کړی ؤ.— خو نن چې کله مونږ د تاریخ پاڼې اړوو نو د خپلواکۍ د غورځنګ دغه نوم ورکی اتل د خپلو ټولو قربانیو او هلوځلو سره مونږ ته د خپل وجود احساس راکوي. هغۀ په جنوري 1978ء کښې د دې فاني دنیا نه سترګې پټې کړې.

## نتیجه (Conclusion)

د جنګ ازادۍ دغه اتلان چې تاریخ او طالبعلمانو نه پټ پاتې دي، خو دوي د ژوندي قام د ذهن و فکر نه څوک ویستلی نۀ شي. زمونږ ځوان کهول نه دا توقع ده چې زمونږ دغه اتلان ټول اولس ته ښکاره کړي او د څېړنې وړ یې وګرځوي. د چا خیال فکر عقیدې سره اختلاف کېدی شي خو د ازادۍ تحریک کښې د هغوي مقام هغوي ته ورکول قامي فرض او تاریخي امانت دی.

زۀ په دې خبره باور لرم چې المارۍ کښې پروت یو کتاب صرف عام کاغذونه وي خو چې کله ولوستی شي نو علم شي.— کله چې په دغه علم عمل وکړی شي نو تجربه ترې جوړه شي او کله چې دا تجربه نورو ته ورسولې شي نو صدقۀ جاریه شي.

مونږ نه ګېر چاپېره د داسې خلقو ډېرې نخښې نخښانې شته چې ژوند يې د قام خپلواکۍ او ښېګړې ته ځار کړی دی. هغوي ځانونه سېزلي دي نو نن مونږ ځکه رڼا پېژنو. دې لړ کښې ما د څو کسانو ضمني ذکر وکړو او هيله لرم چې راتلونکي کښې به د تحقيق سره مينه لرونکي نور ذهنونه نۀ يوازې دا چې نور داسې قام ورکي اتلان د تاريخ د ورکو شوو پاڼو نه مخې ته راوړي، بلکې دا نومونه به هم نور وځېړي او دغسې به د کاغذونو نه د علم، علم نه د عمل، د عمل نه د تجربې او تجربې نه د صدقۀ جاريه لړۍ روانه کړي.

***

# حوالې

(1) Khizar H. Ansari, *The emergence of Social thoughts among North Indian Muslims (1917-47)*, Oxford Prints, Karach, 2015, P.331

(2) قلندر مومند سره مرکه، پېښور، 13 جنوري 1983ء

اکبر شاه میا، د ازادۍ تلاش، دولتي مطبع کابل، افغانستان، اول چاپ، مخ 108-109

د دغه مرکو بشپړه لوستنې د پاره دې اثر ته رجوع کولی شئ.

(3) Dr. Fazal-ur-Rahim Marwat, *The evidence & growth of Communism in Afghanistan (1917-1979): An Appraisal*, Royal Book Agency, Karachi, 1997, P. 201-202

(4) Jirga, First Year, 3rd issue, Kabul, 1982, P.38-29

(5) محمد اشرف غمګین، د صوبه سرحد ترقي پسند تحریک نه یوه پاڼه، مکتبه افکار نو، پېښور، چاپ کال نهٔ لري، مخ 8

(6) Murad Ali Shah, Maulana Uzair Gul (Unpublished M.A thesis), Pakistan Study Centre, University of Peshawar

(7) Daily "The Tribune", Chandigarh, India, Monday, 18/06/2001 1

(8) Mansoor Akbar Kundi, Turkey: A rich trip of past & present, Istanbul University, Turkey, 2000, P.120-124

(9) Dr. Fazal-ur-Rahim Marwat, Abdul Akbar Khan Akbar, published in Celebrities of N.W.F.P (Vol. I, II), Pakistan Study Centre, University of Peshawar, 2005

(9) اکبر، عبدالاکبر خان، سفرنامه روسي ترکستان، کاروان ازادي، منزل اول چارسده، پېښور، 1950، (اردو ژباړه: حاجي پردل خان)

(10) یــونس قیاســي، الله بخــش برقــي، مشــموله "بانــگِ حــرم"، پېښور، 20 فروري 1967ء

(11) دیوانه، انور خان، کیا یہ لوگ پاگل تھے؟، گلشن مار کیٹ، چرچ روڈ کوہاٹی گیٹ، پشاور، 1995، ص 38

(12) هم دغه اثر، مخ 38-39

(13) Afghanistan, Oxford University Press, USA, 2nd Edition, 2002, P.475 Louic Dupree,